# ستوري مجله اوومه ګڼه
# ۲۰۱۰ ع کال




# Stori Magazine 7th Issue
# April-May 2010

# STORI ستوري

خپلواکه، کولتوري او ادبي خپرونه
څلورم کال، اوومه ګڼه، حمل ثور۱۳۸۹ل اپريل مى ۲۰۱۰م کال

**د امتياز خاوند**
د خاص کونړ ادبي او کلتوري ټولنه
**مسوول مدير**
عرفان الله کوټوال /0772931465
**مرستيال**
هدايت الله حيات /0774322484
**کتنپلاوی**
بصير بيدار ستوری، محمد داود صديقي، عصمت الله ملنګ، فضل الهادي عاصم، مير سلام مجاور، ګلرنګ کوچوان
**سلار کاره ډله**
څېړندوی عبدالقيوم زاهد مشوانی، څېړنيار وجيه الله شپون، شفيع الله تاند
**همکار غړي**
رحيم الله خان، داود شاه داود، صادق فقير، رضوان الله شپون
**کلنۍ ګډونبيه**
افغانستان کې ۲۰۰ افغانۍ
پاکستان کې ۲۵۰۰ کلداري
په نورو هېوادونو کې ۵۰ امريکايي ډالره
**د يوې ګڼې بيه:**
افغانستان کې ۲۵ افغانۍ
پاکستان کې ۳۰ کلداري
"ستوری" ستاسو خپرونه ده، ستاسې ليکنې، نيوکې او وړانديزونه په ورين تندي مني

## فهرست

| سرليک | | مخ |
|---|---|---|
| غمرازي | اداره | ۱ |
| اجمل خټک د پښتني ټولني | ارواښاد کبير ستوری | ۲ |
| سياسي شاعر | قتيل خوږياڼی | ۵ |
| د بابا په ځلي | لايق زاده لايق | ۸ |
| د اجمل خټک دريغ | پوهنمل بريالی | ۹ |
| د اجمل خټک د سرېتوب ةشخصيت) | محمد اقبال وزيري | ۱۳ |
| پټ خو د غېرته جدا کېږي نه | نسيم ستوری | ۲۲ |
| د پښتو ژبې پلار | محمد الله ارين | ۲۴ |
| بې له تا نشي کېدی | ډاکټر عالم يوسفزی | ۲۹ |
| پښتانه او عدم تشدد | علي خان محسود | ۳۱ |
| د ستورو کاروان | بېلابېل شاعران | ۳۸ |
| حاجي وکيل عبدالجليل ملنګ | ټولنيز ولسويز ګوند | ۴۳ |
| کنجوس ابو قاسم خپلو ځپلو سم کړ | شفيع الله تاند | ۴۶ |
| د يوويشتمي پيړی پښتون | خان زمان کاکړ | ۴۹ |
| د اسمار په ولسوالی کې د ښه يي | طارق سالارزی | ۵۶ |
| کونړ دېيا رغونې پر لور | اداره | ۵۹ |
| د ستوري، ستوری | عزيز الله ماموند | ۶۲ |

## خبرتيا:

د ستوري مجلې اداره له خپلو ټولو لوستونکيو څخه هيله کوي، چې د مجلې په هکله خپل وړانديزونه او ليکنې د ادارې په پته راواستوي، ترڅو موږ د لوستونکيو په وړانديزونو د مجلې ليکنې کره او بشپړې کړو.

اداره



## د سرليکنې پر ځای:

# غمرازي

په تېرو دوو کلونو کې د پښتو د ادب لمن له ډېرو نوميالیو ليکوالانو، شاعرانو او شخصيتونو څخه تشه شوه او د پښتو ژبې ډېر پياوړي اتلان د تل لپاره له دې نړۍ څخه رخصت شول. د ستوري مجلې ادارې دا ګڼه د پښتو ژبې د ستر او نوميالي ليکوال، شاعر، اديب، سياسي او ملي شخصيت ارواښاد اجمل خټک ته ځانګړې کړې ده. ددې ترڅنګ هغه ټول ليکوالان، شاعران او ملي او منلي شخصيتونه، چې په تېرو دوو کلونو کې يې له زموږ سره اړيکې د تل لپاره ختمې شوې، خو نومونه او يادونه يې تل ژوندي دي لکه ارواښاد سيف الرحمن سليم، ارواښاد پرېشان خټک، ارواښاد پردل خان خټک، خدای بخښلی پروفيسر عبدالرسول امين، خدای بخښلی عبدالله غمخور، ارواښاد شېر زمان طاېزی، خدای بخښلی عبدالرحمن لوګی کاکاخېل، ارواښاد خيال اکبر اپريدی، خدای بخښلی ژورنالېست سهيل قلندر، د ولسي جرګې پخوانی وکيل الحاج عبدالجليل ملنګ، ارواښاد مجيد بابی او د دانش خپرندويې ټولنې د مشر ښاغلي اسدالله دانش ځوان زوی خدای بخښلي حسيب الله جان، چې اوس زموږ په منځ کې نشته، خو په زړونو کې مو ځای لري. ددغو ټولو ښاغليو خدمتونه او کړنې زموږ د مجلې په سينه کې راغونډول ګران کار دی او ټولو خبري رسنيو پرې په خپل وخت د پښتو ژبې د پياوړو ليکوالانو، عالمانو او محققينو ليکنې خپرې کړي، خو د ستوري مجلې اداره ددغو نوميالیو د خدمتونو د اعتراف او يادونې په توګه د دوی مړينه پښتو ژبې او ادب ته لويه ضايع بولي او له لوی څښتن تعالی څخه ورته د بخښنې دعا غواړي او کورنيو، دوستانو او مينه والو ته يې د زړه د جميل صبر غوښتونکي ده.

روح دې ښاد او ياد دې يې تل ژوندی وي.

اداره





نېټه: دسمبر ۱۹۹۷

# اجمل خټک

# د پښتني ټولنې ابدي شتمني

ارواښاد ډاکټر کبير ستوری

د نړۍ په سر د انسان ژوند محدود دی، خو ځينو انسانانو دومره غټه مانوي شتمني جوړه کړې وي او ټول ژوند يې مانا ګرځېدلې وي، چې د مرګ له قيد څخه ازاد وي او تل ژوندي وي. په دې ډله انسانانو کې د پښتو د ادب پلار اجمل خټک راځي، چې په ۱۹۲۶ع کال په اکوړه خټک کې د حکمت خان په کور کې پيدا شوی دی . دی اوس يو اويا (۷۱) کلن دی، خو د پښتون ولس په خدمت کې نه ستړې کېدونکې منډې تررړې وهي. اجمل خټک يو ډېر اړخېزه سرېتوب (شخصيت) دی او د پوهنې، فلسفې، سياست او ادب په ډګر کې بې ساری جګ مقام لري. د اجمل خټک د سرېتوب ټول اړخونه په يوه مقاله کې راټولول ګران کار دی، له دې کبله يو څو مهمو ټکو ته ځغلنده نظر اچول کېږي. اجمل خټک د باچا خان (فخر افغان) د لارې ملګری او د خدای خدمتګارو د تحريک کره ستنه ده. باچا خان که څه هم د ستر خان زوی و، خو ناسته ولاړه يې د مزدور د طبقې او غريبانانو سره وه. باچا خان د ښکېلاک (استعمار) په مقابل کې د پښتنو په يوه مرکز د راغونډولو لپاره دا سياسي ناره پورته کړې وه، چې (که سپوره وي که پوره وي، نو په شريکه به وي) ترڅو د مزدور د طبقې هغه اندېښنه له منځه







يوسي، چې که موږ د ښکېلاک او زبېښناک (استحصال، استثمار)څخه ځان خلاص کړو، نو بيا به مو خپل خانان ملکان زبېښي. د باچا خان دا ناره له پښتني ټولنې څخه اوبه اخلي، شريک ملکيت د پښتني ټولنې دود وو. لا تراوسه ډاګ، غر او جبه د پښتنو په ځينو سيمو کې شريک ملکيت دی. اجمل خټک د باچا خان دا سياسي ناره خپله سياسي فلسفه وګرځوله او د ادب په رنګينه جامه کې يې راونغاړله او په دې توګه يې له خپلو ملګريو شاعرانو او ليکوالو سره يوځای قامي طبقاتي ادبي خوځښت (تحريک) روان کړ.

قامي طبقاتي خوځښت يا مبارزه د کمونستي يا سوسيالېستي طبقاتي خوځښت يا مبارزې سره توپير لري. د قامي طبقاتي مبارزې هدف د يوې خوا د ښکېلاک له زبېښنې څخه د ټول قام خلاصون او له بلې خوا د قام په منځ کې د تضادونو د منځه وړلو لپاره د ټولنې د ټول عايدات عادلانه وېش دی، چې ټولنيزې ولسولی (سوشل ډيموکراسی) سره ورته والی لري. په نورو ټورو سره د قامي طبقاتي مبارزې هدف د ټول قام ګټه او سوکالي ده، چې د يوې خوا بهرنی تضاد، چې د ښکېلاک سره يې قام لري، د منځه وړي او له بلې خوا د قام په منځ کې دننني تضادونه مزدور طبقې ته د پيداوارو (توليد) په وسايلو کې د عادلانه برخې د ورکولو په واسطه د منځه وړي. د کمونستي طبقاتي مبارزې هدف د ټول قام ګټې نه دي، بلکې صرف د مزدور د طبقې ګټې دي، چې په هېواد (ستېټ) باندې د مزدور د طبقې قبضې او حاکميت د لارې د پيداوارو وسايل په لاس کې اخلي، چې د قام په منځ کې تضادونه د منځه نه ځي، بلکې شکل او بڼه يې بدلېږي.

نن ورځ قامي طبقاتي ادبي خوځښت په پښتني ټولنه کې ډېر پراخوالی

# د بابا په ځلی

لایق زاده لایق

زه یو خوا ته غلی ناست یم
د بابا اجمل تصویر مې
دی سینه پورې نیولی
رڼې اوښکې مې لېمو کې
غلي غلي جرګه کېږي
څه خبره کول غواړم
ولې هېڅ ویلی نه شم
د بابا تصویر موسکی شي
راته وایه لېونیه
اوښکې وچې که مه ژاړه
تاته چا ویلي زه مړ یم
مرګی نه شي ما وژلی
زه خو زړونو کې اوسېږم
په ذهنونو کې مېشته یم
زه بابا ته په سلګو کې
وایم ګرانه بابا جانه!
منم ستا فکر ژوندی دی
تر ابده به ژوندی وي
بس په دې خبره ژاړم
چې ته ډېر ارماني لاړې
تا خو ویل چې پښتانه به
زه له سیالو سره سیال کړم
د پښتون کور به آباد کړم
دا تالا والا پښتون به
زه په یو مرکز راټول کړم
خو ملنګه بابا جانه!
لا په ټوله پښتونخوا کې
په هر خوا بلې لمبې دي
د قامي وجود خاپونه
بابا جانه تالا کېږي

کور په کور باندې ماتم دی
خو پښتون دی لا بې حسه
د باچا خان په شان تا هم
ارمانونه ګور ته یووړل
ولي خان هم په سلګو کې
د پښتون ارمان ژړلی
ستوري هم چې په المان کې
اخري سلګۍ وهلې
نو ویل یې چې به کله
د پښتون کور ابادېږي
خو دا واړه ارمانونه
لا تر ننه پوره نه دي
ما چې دا ساندې ویلې
د اجمل بابا تصویر هم
کړلې چیغې بې اختیاره
زه تصویر ته په ژړا وم
تصویر ماته په ژړا و
بیا مې خولې له بې اختیاره
چې یو سوړ اسویلی راغی
نو راپاڅېدم روان شوم
د بابا د ځلي خاورې
چې مې کله ښکلولې
د اسمان نه آواز راغی
وئ ملنګ بابا ته وایه
ستا ارمان به پوره کېږي
د وحشت تورې تیارې به
رڼاګانو کې بدلېږي
یو سحر د امیدونو
پښتونخوا ته راروان دی
دا سحر به وي د آمن

دا سحر به د وحدت وي
دې اواز زما نظر کې
د امید ډیوې کړې بلې
چې مې شاته نظر وکړ
نو اجمل بابا ولاړ و
باچا خان سره په خوا کې
هم ولي خان ورسره و
ستوری هم د خندا شین و
زه اتاله شومه پاتې
اتلانو کتل ماته
زه د بُت په رنګ ولاړ وم
بس په شونډو مې دعا وه
چې عظیمه لویه خدایه
موږ له خپله نامه راکړه
دغه خوب د اتلانو
د تعبیر سره اشنا که
موږ له خپل تشخص راکه
نور زموږ امتحان مه اخله
بیا جلوه د رڼا راغله
د بابا په خاورین ځلي
د سپوږمۍ په شان خوره شوه
اتلان زما د سترګو
نه پنا شو لکه سیوري
ما چې ځان ته فکر وکړو
نو د قبر خوا ته ناست وم
د بابا تصویر په لاس کې
رڼې اوښکې په لېمو کې
په سلګو مې ښکلولې
د بابا د ځلي خاورې





# د اجمل خټک "دریځ"

پوهنمل بريالی

د پښتو په معاصر ادب، چې کله خبرې کوو، نو ددې دورې په څو بنسټیزو کسانو کې یو هم "اجمل خټک" دی، چې د زیاتو صلاحیتونو خاوند دی او بنسټیز کارونه یې سرته رسولي دي. له همدې لامله د اجمل خټک دریځ د پښتو په معاصر ادب کې یو جوت او بنسټیز دریځ نومولی شو.

د ادب په بېلابېلو صنفونو کې که شعر دی، که داستان، که تکل، که ډرامه، که راپورتاژ، که ادبي سفر او که نور... خو په وده او پخېدو کې یې اجمل خټک د پاملرنې وړ کارونه سرته رسولي دي. ددې خبرې ثبوت په پښتو نثر او نظم کې دده هغه ارزښتمن اثار دي، چې په پښتو ادب کې خاص ځای لري، خو بیا هم اجمل خټک د یو شاعر په توګه د ډېر شهرت خاوند دی او دا ځکه چې د معاصر شعر په بدلون، جوړښت او وده کې دده ونډه زیاته جوته ده.

اجمل خټک، چې په شعر ویلو پیل کاوه، نو دغه وخت په کوزه پښتونخوا کې د باچا خان تر مشرۍ لاندې د (خدایي خدمتګارۍ) غورځنګ ښه په شور او درز کې روان و. دغه غورځنګ پښتو ادب ته تر بل هرڅه زیات پښتو شعرو ورکړ، چې د شاعرانو د نومونو فهرست یې ډېر اوږد دی. ددغه وخت زیاته شاعري د نظم په بڼه کې وه، چې مقصد یې د اولس ویښول او د انګرېز ښکېلاک نه د خلاصون پر لور د خلکو راپاڅول وو.

اجمل خټک په دغه وخت کې نوی





زلمی و، د همدغه اغېز لاندې یې شعر ویل پیل کړل، خو په دومره توپیر چې ملي او قومي محتوا ته یې هنري جامه واغوستله او د شعر هنري اړخ او لوري ته یې بدلون ورکړ او هم یې دغې خبرې ته د نورو شاعرانو پاملرنه راوګرځوله.

ایاز داودزی په دې حقله وايي:

"د اجمل د شاعرۍ یو لوی خصوصیت او انفرادیت دا دی، چې د هغه د نظمونو فضا روماني ده، یا به داسې ووایو چې بوده یې د حقیقت پسندۍ د شډلو سپېرو نه ده، نو تنسته یې د رومانیت له رنګینو بهینو او پستو وریښمو جوړه ده."

په پښتو معاصر ادب کې د اجمل خټک دریځ همدارنګه د هند د نیمې وچې ځینو ملي مترقي ادبي تنظیمونو هم د اجمل خټک په ذهن او ادبي تګلاره باندې اغېز وکړ او ددغه اغېز له کبله دده په سیاسي ژوند او ادبي لاره کې نوي ځرکونه په بلېدو شول، چې بیا نویو زلمیانو دده دغه لاره هم په سیاسي لحاظ او هم په ادبي لحاظ ښه وپالله.




سیاست پوه او لیکوال افراسیات خټک په دې هکله لیکي:

کله چې د هند په نیمه وچه کې په ۱۹۳٦ کال کې د انجمن ترقي پسند مصنفین په نوم یو تنظیم جوړ شو، نو په دغه تنظیم کې جمهوري او مترقي خوا عناصر شامل شول، چې دا دسته د هند په نیمه وچه کې د نوي ذهني قضا د اګاه او باشعورو جوړونکو باندې مشتمله وه. په دې کې فیض احمد فیض، فراق ګورکپوري، ساحر لدیانوي، جوش ملیح ابادي، منشي پریم چند، حسرت موهاوي، اسرارالحق مجاز، جګر مراد ابادي، احمد ندیم قاسمي او نور ډېر نومونه شامل وو.

دغه تحریک د نړۍ د ټولو آزادي غوښتونکیو مترقي او جمهوري خوا منورینو سره خپل غږ یو کړی و، دغه تحریک په کوزه پښتونخوا کې په ادبي شعر هم ژور اغېز وکړ او د کاکاجي صنوبر





حسین، فارغ بخاري، سیف الرحمن سلیم، اجمل خټک، قلندر مومند او لطف وهمي غوندې انقلابي او مترقي شاعران هم ددغې ځپې برخې وبلل شوې."

ددغه تحریک نه په اغېز اجمل خټک د خپل شعر په محتوا نور څه هم ورزیات کړل، چې د وخت او زمان غوښتنه وه او هغه د انسان آزادۍ او برابرۍ خبره وه او یا په بله مانا مترقي نظریاتو او افکارو یې د شعرونو غېږه ونیوله. د اجمل خټک شعر د نوي سیاست غوښتنې له ځان سره ملي کړې او شعر و سیاست یې سره یوځای کړل. د هغه وخت ځوان کول دغه لاره ډېره ژور ومنله او په دغه لاره روان شول.

بیا هم د ایاز داودزي وینا رااخلم، چې وايي:

"د هغه تخلیقي او شاعرانه دماغ پښتو ادب ته یو نوی خیال او نوی جهان وروبخښلو. د اجمل خټک شاعرۍ د ژوند قافلې راوینې کړې، د منزل احساس یې ورپه ګوته کړ او د هغو په رفتار کې یې لکه د روانې وینې ګرمي او تېزي راوسته."

ویل کېږي، چې د اجمل خټک شاعرۍ په پښتو کې هم د شاعرۍ لوری بدل کړ او هم د سیاست په دواړو کې نوی بدلون راوست او پلویان او لارویان یې هم ډېر زیات شول.

ښاغلی سلیم راز وايي:

"د اجمل خټک شاعرۍ د شلمې پېړۍ وروستۍ نیمایي پښتون سیاست او پښتو ادب متاثر کړی، په سیاست او ادب یې یو شان اثرات مرتب کړي او په عامو خلکو کې یې د انقلابي یون سماجي بدلون جذبه، ولوله او حوصله پیدا کړې ده."

اجمل خټک او د غېرت چغه یو له بل سره تړلي نومونه دي. د خټک د کومې شاعرۍ ذکر چې ما وکړ، په غېرت چېغه کې رامنځ ته شوه، چې لاس په لاس به ګرځېدله او د هغه وخت جلوسونه او لاریونونه به په همدغې چیغې بدرګه کېدل. ددغې چیغې ډېر شعرونه د ځوانانو ذهونو کې نقش وو او د مشالونو په توګه ویل کېدل. د غېرت چیغې شعرونو د هغه وخت په سیاسي او ادبي حلقو کې خوځښت راوست او د سلیم راز په قول، چې په سیاست او ادب کې بدلون تر سترګو شو.

استاد عبدالله بختانی وايي، چې:

"ځوانانو به هڅه کوله چې خپل شعرونه په دې لار روان کړي."

همدارنګه سلیم راز هم دا خبره لږ په تفصل سره کوي او وايي:

"د غېرت چغه زلمو د لارښوونې صحیفه ګرځولې او تاویز کړې وه، ځکه پرې حکومت پابندي ولګوله. خو د پابندۍ باوجود د پښتون سیاست لاره همدې کتاب وښووده او د پښتو د عصري، مقصدي شاعرۍ د فکري رُخ تعین هم دې

قونسل په توګه دنده اجرا کوله، چلېده او د پښتنو لیکوالو، شاعرانو او نورو ترمنځ اړیکې پراخې او ژورې شوې چې د اجمل په وینا «د پښتو د ادب په بڼ کې ادبي او سیاسي وږمې په تېزی سره چلېدل شروع» کړل خپل اغېز اچاوه .

اجمل ختک افغانستان ته په خپلو سفرونو کې د بري پښتونخوا د نامتو لیکوالانو، شاعرانو، ټولنیزو، سیاسي شخصیتونو او روښنفکرانو لکه محمد ګل خان مومند، عبدالرؤف بېنوا، صدیق الله رښتین، غلام حسن صافی، نور محمد تره کي، قیام الدین خادم، غلام محمد فرهاد، سلیمان لایق، میر اکبر خیبر، حفیظ الله امین، صدیق پسرلی، عبد الله بختانی، نصرالله حافظ، سېلاب ساپی او نورو سره لیدنې او کتنې وکړې او اړیکې یې ورسره ټینګې کړې. اجمل ختک افغانستان ته د لومړي سفر په هکله داسې لیکي: «دا جذبه او بیداري نو دلته زور سیاسي چوکاټ کې نشي پاتې کېدای... افغانستان ګُڼې بدلون ته روان دی... حقیقت دا دی چې موږ د کابل ته پس تلو نو د نوي جوش نوي ولولې او نوي جرأت سره واپس شوو چې هغه زموږ په ژوند او ادب کې ښکاره دي». په دې ترتیب د ده ملي احساس، د ازادی روح او د زیار کښ

انسان سره مینه او همدردي پخېږي چې د «غیرت چیغه» او «ګل پرهر» یې وزېږول .

اجمل ختک د ذوالفقار علي بوټو د زور او زیاتي او ظالمانه کړو وړو له مخې اړ ویستل شو چې خپل پلرنی ټاټوبی پرېږدي او افغانستان ته لاړ شي. په افغانستان کې ده ډېر وخت تېر کړ. فکر کوم هغه چاپېریال چې اجمل ختک په کې ژوند کاوه د هغه د کتاب «قیصه زما د ادبي ژوند» په دوهم ټوک او «قیصه زما د سیاسي ژوند» کې په انعکاس ومومي. خو دومره باید ووایم چې په افغانستان کې د ده د اوږدې مودې شته والی او هغه تجربه چې د افغانستان د ورو ستیو دری لسیزو غمجنو پېښو څخه یې لاس ته راوړې ده د نوموړي په ادبي او شعري جوړونو کې یې اغېز ځرګند دی.

اجمل ختک په افغانستان باندې د شوروي وسله وال یرغل ورو سته د درملنې لپاره شوروي اتحاد او یو شمېر د ختیځې اروپا هېوادو ته سفر وکړ. په دغه سفر کې ده د شوروي اتحاد او ختیځې اروپا د هېوادو ځینې مهم ښارونه ولیدل. په دغو ښارونو کې نوموړی د دغو هېوادو د خلکو د ژوند سره چې د افغانانو پرتله ډېر ښه و اشنا شو. اجمل چې د





دغو خلکو سوله ایز ژوند، ښکلي ښارونه ښایسته او زړه وړونکې طبیعي منظرې، د خوانانو ښکله او ښایست، مینه او نور ولیدل او هغه یې د خپل وطن د خلکو د ستونزمن ژوند سره پرتله کړل نو د ده غوندې حساس شاعر باندې بې اغېزې پاتې نه شو او «ګلونه تکلونه» یې را وزېږول

*ماحول له مینې ډک دی جنان خاندي ګل موسیږي*
*د زړه په باب مې شعر لکه پرخه راورېږي*
*پېدې ښکلې فضا کې چې هم حسن شته هم مینه*
*رباب که دلته کېږدې نو پخپله به ټنګېږي*

اجمل ختک د وطن څخه لیرې په ښکلې او اباده اروپا کې خپل ملي ارمانونه، د خپل ټاټوبي او خلکو سره ژوره مینه هېر کړي نه دي او دا احساس ورسره دی چې یوه ورځ به داسې هم راشي چې افغانان هم د داسې ژوند خاوندان شي چې هلته جګړه نه وي، مینه، ورورولي او ملي یووالی وي، خپل رنګ هېواد بیا اباد او نورې دنیا سره د سیالی جوګه شو.

ختکه دا وړې د وسوسو خبرې پرېږده وختونه د دنیا په لوی میدان کې د سیالی دي

اجمل ختک په مهاجرت کې د افغانانو ډېر ربړوونکي او د ستونزو ډک ژوند ډېر خوروي چې دوی د مهاجرت په وخت کې ورسره لاس او ګرېوان و. اجمل

ختک په هغو غیر انساني سختو شرایطو کې د افغانانو غیرت، عزت نفس، ننګ، د ستونزو په وړاندې د دوی ټینګه اراده، ناموس ساتنه او نورو څخه ډېر متاثر شوی چې د ده د «افغان ننګ» د کتاب په ډېرو کیسو کې په ډېر ښینار (هنر) سره انځور شوي دي. زه باور لرم چې د اجمل ختک په ادبي او سیاسي میراث باندې به ادب پوهان، لیکوالان او کره کتونکي کار وکړي او د اجمل ختک ځای به د افغانستان په ادبي او سیاسي تاریخ کې وټاکي.

پدې مقاله کې د لاندې کتابو او مقالو څخه استعفاده شوې ده :

ا: اجمل ختک: قیصه زما د ادبي ژوند
۲: جمل ختک: د غیرت چیغه
۳ : اجمل ختک: ګلونه تکلونه
۴ :اجمل ختک: د افغان ننګ
۵ : عابد الله جان عابد :اجمل ختک: شخصیت اور فن
۲ : غني او اجمل: د مقالو مجموعه .د قامونو او قبایلو وزارت ۱۳۲۵
۷:پوهاند دوکتور محمد حسن کاکړ: مقاله. «پښتو د شعر ژبه ده». د پښتونخوا د انټرنټ سایټ څخه





# پت خو د غیرته جدا کیږي نه
# غر د خپله ځایه نه خوزیږي نه

نسیم ستوري

***ددې پورتنې شعر خالق اجمل بابا د پښتنې ټولنې یوه هستي وه .***
***الله تعالی ورته داسې قوي عزم او تېره قلم ورکړی و، چې د خوشال بابا د توري ارزښت ئې درلود .***
***اجمل بابا د پښتون قام ، د سترګو رڼا وه ، یو سمندر و ، د پوهې سمندر، د ادب سمندر، د سیاست سمندر، هغې په هر ډګر کې نیالګي کرلي دي.***
***زما په خیال په پښتون قام کې داسې څوک نشته چې د بابا له خیال او فکر څخه یې ګټه نه وي اخیستې یا یې له دې ادبي او سیاسي سمندر څخه ځانته سیندونه ، ویالې یا لښتې نه وي جوړ کړي.***
***اجمل بابا پښتون قام ته داسې معنوي پانګې پرېښودې چې زموږ راتلونکی نسل به تر نسلونو نسلونو ترې ګټه اخلي.***

نسکوره د پښتون د بخت کاسه شوله بابا
اسمان د پښتنو کې توره شپه شوله بابا

واړه پښتانه درپسې ژاړې ستا ارمان کړي
نوښار نه چې ستا جګه جنازه شوله بابا

د ژوند کاروان روان دی، خو ډیوې ورسره مړې دي
بې غیر له تا نه دا دونیا رنده شوله بابا





ستا د قلم اوښکې چې ناڅاپه ودرېدلې
ادب په مېخانه کې زلزله شوله بابا

پښتون ته دي پښتون ګلان په ذهن کې کرل
هر خوا ته راته جوړه سره میره شوله بابا

پښتو د ادب پلاره چې زمونږ نه شوي جدا
دا غته دنیا مونږ باندې وړه شوله بابا

ولاړ به وي ملنګ بابا په ننګ د پښتنو
اوس چغه د غیرت دي فلسفه شوله بابا

دا ستا د خیال او فکر ارمان به مونږ پوره کړو
زمونږه نن د تا سره وعده شوله بابا

ستنه د تحریک وې د باچا خان په تحریک کې
ستا پانګه معنوي مو خزانه شوله بابا

ژبه دې پیدا کړه د پښتون په ګونګه خوله کې
نو ځکه نسیم ستوري ته ډیوه شوله بابا

اسمان د پښتنو کې توره شپه شوله بابا
نسکوره د پښتون د بخت کاسه شوله بابا

کامل، قلندر مومند، امیر حمزه خان شینواري، همیش خلیل، مهدي شاه باچا، لطیف وهمي غوندې درنې علمي څېرې مونږ ورانده کړې دي دا ټول داولسي ادبي جرگې برکت، کمال او پیداوار دی.

ددغو ټولو شخصیاتو تخلیقي او تنقیدي شعور اولسي ادبي جرگې دفورم څخه خلا موندلې ده.

اجمل ختک په بنستیزه توگه هغه ترقي خوښی شاعر دی چې کلام یې دشعریت په اوچت مقام ولاړ دی او دفکري ارزښتونو ستنې یې پیاوړې دي.

دپښتون قام دپاره په زیاتیو قربانیو یې لراو بر پښتانه د ده سره ځانگړې مینه لري او په خاص توگه ددوارو خواوو ادبي حلقې خو ورسره دومره مینه کوي چې وخت په وخت یې دمختلفو ادبي تنظیمونو، جرگو او ټولنو لخوا د بابا صیب په درناوي کې لوې لوې مشاعرې او سیمینارونه جوړ کړي دي او دادبي تنظیمونو لخوا ډیر میډالونه او ستاینلیکونه ورکول شوي دي.

ښاغلي ختک صیب چې دسیاسي مبارزې په لاره کې دخپل ژوند زیاته برخه پټ پناه، دجیلونو شاته، په نظربندی او جلاوطنی کې تیره کړې ده خو ولې ددې باوجود هم چې ښاغلي ختک صیب دپښتو ژبې اؤ ادب په وده کې څومره کردار لوبولی دی نو هغه ددې عظیم شخصیت په لوړ عزم او اراده دلالت کوي.

ښاغلي ختک صیب دپښتو ادب جولی ته خپل زیات تخلیقات ورپیرزو کړي دي.

### د بابا مړینه:

خان مې په درکې کړدرته خاورې په خق خق خاندې ژړامې نه اورې یوه ورځ به واورې چې ختک ومړ که ناورې ناورې داخوبه اورې وروسته تر دې چې بابا د دې ژبې د ویونکو لپاره ډیرې هڅې وکړې خو په پای کې بیا هم مرگي اجازه ورنکړه ترڅو تر ډیره د دې قوم او ژبې پالنه وکړي او تل هرڅوک پرې حساب وکړي چې مونږ هم بابا لرو.

ښاغلی بابا د ورپیښې ناروغي له امله دیکشنبی په ورځ د ۲۰۱۰ ع کال د فبرورۍ د میاشتی په ۷ مه نیټه د ۸۵ ؤ کالو په عمر دا وړدې ناروغی له امله په حق ورسید. روح د ښاده وي پاتې شونکو او کورنی او ټولو پښتنو ته د ده د مړینې له امله د صبر جمیل غوښتنه کوو او خدای بخښلې بابا ته د جنت فردوس غوښتنه کوو.

روح دې ښاد وي





# بې له تا نشي کېدی، نشي کېدی

داکټر عالم یوسفزی

حالات خو ستا د خولې خبرې غواړي
ژوند اتهونه او سندرې غواړي
زما پاگل، پاگل باغي پښتونه
وخت رانه ستا په شان تکړې غواړي
اوس خو یواځې په یو یو نه کېږي
سرونه ښکرې او لښکرې غواړي
د مرورورو باباگانو اروا
د اشنغر دروازې لرې غواړي
دا تور کارغان زما نه بیا وشړه
ستا پښتونخوا سپینې کونترې غواړي

لالیه مه مرورېږه کنه
بې له تا نشي کېدی، نشي کېدی
په خاورو مه داسې پټېږه کنه
بې له تا نشي کېدی، نشي کېدی

صنمه ما په زړه داغلی یې ته
صنمه ما داسې بابللی یې ته
صنم چې ما دی گل پرهر نه لیدو
صنمه ما به نه منلی یې ته
خو... اوس پخپله په ځان سوال کومه
چې ما کړلی اخر ولې یې ته
ما له دې هم کړه ژبه وچه وچه
اوس چې د مرگ په چیتا غلی یې ته
مړو باباگانوو سره مینه کوم
څکه خو وایم چې ښاغلی یې ته

زما نه مه داسې هېرېږه کنه
بې له تا نشي کېدی، نشي کېدی
اوس خو مې سترگو کې غړېږه کنه
بې له تا نشي کېدی، نشي کېدی

او... داسې کېږې مونږه مړي ژاړو
د محبت د منزل سترې ژاړو





خرو قبرونو له گلونه وړو تل
او بیا په ساندو کې وگړي ژاړو
د خندا شنې شونډې مو وشرمېږي
څه نیمه خوا او څه نیمگړې ژاړو
څومره بې وخته محبت کوو چې
غندلي نه ژاړو او زړېري ژاړو
زمونږه رسم عجیبه غوندې دی
په کفنونو کې پیاوړې ژاړو
په موږه اوس مه حېرانېږه کنه
بې له تا نشي کېدی، نشي کېدی
مه کوه مه داسې چپ کېږه کنه
بې له تا نشي کېدی، نشي کېدی

زه لوگی کېږم لمبه کېږمه نه
چې وغورزېږمه پاڅېږمه نه
د غېرت چغه دې په کار ده راله
زه یخ نیولی یم، تودېږمه نه
د پښتونوالې وظیفه دې راکړه
مقابله ده چې یرېږمه نه
په ننگ ناموس باندې مې دا څه وشو
ستا په قسم هم چې ودرېږمه نه
بیا به پېغور درته په گور کې کوي
غم دې پښتون دی، اوده کېږمه نه

زما نه اوس مه اوده کېږه کنه
بې له تا نشي کېدی، نشي کېدی
کینه جرگه کوو، گړېږه کنه
بې له تا نشي کېدی، نشي کېدی

بابا راپاڅه یو پېغور راکه
خبر دی لمبه مې که لړ اور راکه
خدایه یو بل اجمل ختک غواړمه
یو بل خوشال په آسپه سور راکه
د سوات نه غلی پېښور ته راغلم
شونډې مې پرانېزه یو شور راکه
ما تاته ستا هغه کچکول نیولی
ما له زما د مینې پور راکه
داسې بې غږه بې آوازه مه ځه
ماله په غېږه کې لږ زور راکه

مانه خو اوس مه خپه کېږه کنه
بې له تا نشي کېدی، نشي کېدی

د پښتو جنگ دی مه ستنېږه کنه
بې له تا نشي کېدی، نشي کېدی.





د باچاخان بابا د ۲۲ تلین او خان عبدالولی خان بابا د ۲ تلین په یاد

# پښتانه او عدم تشدد

لیکوونکی: علي خان محسود

د عدم تشدد ساده تعریف یانې په عام تکیو کې هغه عمل ته وایي، چې د ژوند ټولې ربړې او ستونزې د زور ظلم او طاقت په لار نه حل کوي. "یانې عدم تشدد منفي تشدد" بلکې ټولې ربړې د منطق، روغې او جرگې مرکې صلاح مشورې له لارې سمولو عمل ته وایي.

ویل او کول دواړه باید د تشدد نه خلاص وي. عدم تشدد ډېر گران کار او عمل دی، تشدد ډېر اسان دی. د تشدد نتیجې ترخې او ناتللې وي، تشدد نه کرکه، نفرت، ډار، وېره، بې قراري او تیاره توکېږي، تشدد د ژوند ټول روښت هغه که ملي وي او که د یوه وگړي، شل کوي. تشدد نه د ټولنې ټول رنځونه زېږي.

بلې خوا ته د عدم تشدد نه مینه، ورورولي، روغ سوچ او فکر ملي او ټولنیز ژوند کې رنا خوروي. د انسان د لاسه انسان او نورو ژوندو سورو ته د خېر ښېگړې لارې پرانېزي. عدم تشدد د انسانانو سرونه او زړونه گټي.

تشدد بدل او انتقام ته لار سموي، عدم تشدد کې انتقام او بدل نشته، نو ځکه تشدد اسان او عدم تشدد گران عمل دی. ډېر خلک دغه فکر لري، چې گڼې عدم تشدد د ډارن انسان کار دی، چې د خپل بدل همت نه لري.

په جوته هم دغې ښکاري، مگر که په نتیجو یې ژور غور وشي، نو عدم تشدد د ډارن کس یا قوم کار نه دی، بلکې د پیاوړي انسان کار دی. عدم تشدد دوه اصلونه لري، یو سیاسي لکه گاندهي جي لار او بل د رغونې عمل یانې ملي او شخصي اصلاحي لار لکه د لوی بابا باچا خان. هم ددې فرق نتېجه وه، چې گاندهي جي عدم تشدد د پرنگي خلاف په سیاسي ډگر کې استعمال کړو. باچا خان د پښتون ملت د ژوند نه تشدد ختمولو لپاره نتیجې یې څرگندې دي، چې گاندهي جي د سیاسي تشدد ښکار شو او باچا خان تشدد پسند قوم په مېنځ کې تر اخیره پورې د تشدد ښکار نشو. دا ځکه چې باچا خان عدم تشدد د ټولنې د اصلاح لپاره او گاندهي جي د سیاسي موخو

## غزل

### فتح الله حسرت صادق

درته زاري کوم ښایسته جانانه
دا تمنا مې کړه پوره جانانه
ماته د سرو شونډو شراب راکړه
که هر اندام راله نشه جانانه
زما د سترګو سره سترګې یو کړه
ورکه خیالونو کې مې شپه جانانه
څومره ښایسته یې څومره ښکلې ښکارې
د خلکو زړونه کړې چپه جانانه
ستا ښکلی حسن زه د هوښه ویستم
یاد کې دې ساتم همېشه جانانه
لږ ترحم د مینې وکړه په ما
که نه نو بیا به شم لمبه جانانه
حسرت حېران یمه په دې خبره
ولې دې مینې کړم زره جانانه

***

## غزل

### لایق سید لېوال

ارمان رانه ورک شوی دی درمان رانه ورک شوی
چې ما ورسره مینه کړه جانان رانه ورک شوی
په ویښه پسې ګرځم په خوبونو کې یې وینم
جهان ګورم جهان کې خو جهان رانه ورک شوی
وریځې چې سپوږمۍ په مخ د زلفو راخپرې کړي
چې مخ ته د یار ګورم نو اسمان رانه ورک شوی
اوس غم دې زه په څه باندې غلط کړمه جانانه
په سترګو کې دې ځان ګورم خو ځان رانه ورک شوی
د ژوند کښتۍ مې نوره ډوبېدو کې ده نګاره
د مینې په کښتۍ کې جالوان رانه ورک شوی
په کومه ورځ په مینه چې لېوال ته دې کتلي
سپین مخی مخور دې ګل خوبان رانه ورک شوی

## غزل

### اسماعیل افکار

ستورو کې نه ښکارې خو ستا سترګو کې ستورې ښکارې
ګلابه سترګو کې دې سترګې راته نورې ښکارې
نازک د زړه تارونه ترنګ وهي چې وخاندي یار
په شونډو سرو دې ښه صفا د کبر تورې ښکارې
د پښتو درون تر د جرات له سینې واړوو یار
په وړاندې ستا مې د همت غشي کمزورې ښکارې
پوهېږو زړونو کې د خولې تالې لا بندې مو دي
یا خو نادان یم یا د یار سترګې سرزورې ښکارې
د زړه په زړه کې دې زړګیه د زړه زړه ساتمه
د اسویلو نه مې خبر شه ګرانه شورې ښکارې
افکاره پټ نه دی سپین خولې لکه لمر ځلېږي
زما چې هر شعر او هر غزل ته ګورې ښکارې

***

## غزل

### صاحبزاده اعجازالحق دانش یار

وخاندم که وژاړم خپل ځان راپورې خاندي
د کلي جینکۍ او هلکان راپورې خاندي

ملګرو خپه نه شئ د خپګان خبره واورئ
رېبار رانه خپه شو، رقیبان راپورې خاندي.

جانان مې مازیګر کې د بلۍ سر ته ونه خت
په باغ کې بلبلان او تور کارغان راپورې خاندي

دا ډېرې ورځې کېږي چې جانان رانه جدا دی
که لیک ورته لیکمه نو جانان راپورې خاندي

غلی شه اعجازه دا شعرونه ته نور مه لیکه
شعر به دې خراب شي شاعران راپورې خاندي

***





# یوه نیازبینه پېغله

### طارق سالارزی

هغه زما د چم حسینه پېغله
هغه زما د وطن مینه پېغله
هغه د ژوند په ارمانونو پسې
څه کړېدلې وینه وینه پېغله

***

هغه د تورو تورو غرونو پېغله
هغه د دنګو چینارونو پېغله
د سترې زیر مازیګرونو لیلو
هاغه د مستو ګودرونو پېغله

***

د ژوند دې ډېرو بې کسو ځپلې
له غمه سترو اسوېلو ځپلې
د وخت ارمان هم یو ورپاتې نه دی
د امیدونو فلسفو ځپلې

***

لاس کې د سرو بنګړیو شرنګ نلري
اوس اننګي یې هغه رنګ نلري
هلته یې ځاځي اوس بې کسه اوښکې
خوارکۍ غاړه کې لونګ نه لري

***

ها د کوه قاف د سردرو ملوکه
د مړاو سترګو د کتو ملوکه
هغه د ننګ د تدبیرونو کیسه
ها د میوند د تاریخو ملوکه

***

بدله نه ده همغه پېغله ده
خو اوس غوړو باندې کنه پېغله ده
د اوښکو څاڅکو یې لېمه ګونځې کړه
د خلکو جوړه مسخره پېغله ده

***

د کوه قاف د ښاپست تورې باسې
زما د کلي د سر سیورې باسې
د تور ماښام په تروږمۍ کې غلی
سم له دې پاس اسمانه ستوری باسې

***

نن هغه پېغله سهار خواره وځې
تر ماښامونو له ناچاره وځې
هاغه د ګل غوندې نازکه لیلو
زما په نوم د بل له ښاره وځې

وېرېږم هسې نه جهان چپه کړي
یا مو په سر دا پاس اسمان چپه کړي

## د خپل پلار الحاج وکیل ملنګ په مرګ ویرنه

### ګلرنګ کوچوان

و خدایه جانان زما جانان دې رانه واخیست
هیلې مې شوې خاورې او ارمان دې رانه واخیست
بخته ستا یارې څومره نیمګړې ده نیمګړې ده
سمه نیمه لار کې خدای په امان دې رانه واخیست
اوس د ګلو ډکه لمن کوم چمن ته راوړمه
هغه د ګلونو ګلستان دې رانه واخیست
چا سره به کېنم او د چا سره سلا وکړم
مرګه تول سپېڅلي مشران دې رانه واخیست
نوره مزه نه کوي هېڅ نه کوي ترې ځي کوچوان
ژوند دې رانه واخیست او ځان دې رانه واخیست

***





## غزل

### غلام نبي شفق

ما چې له ډېرې مودې
په زړه یو غوټه غوندې غم لرلو
زه چې له ډېرې مودې
د داسې لاس په لټون
چې دا تړلې غوټه
ورباندې وسپړمه
ما چې له ډېرې مودې
داسې نظر غوښتلو
چې د لمبو جامې په تن ولري
زه چې بلا کلونه
د داسې سترګو لټوب وړی وم
چې ترې د مینې کتاب ولولمه
چې مې د عشق په فلسفه پوهه کړي
اُف! څومره خوږې شېبې وې
لکه نیازبین ماشوم
څه په وړو، وړو خاپوړو راغلې
دا دې تر سترګو مې راورسېدې
دا دی په جنګ ورسره واوښتمه
دا دی د زړه ګلاب مې وشوکاوه
دا دی لمبو ته مې ورو شیندلو
اوس مې د عشق د فلسفې د کتاب
پاڼې راواړولې
خو د جانان دواړه ښوونکیو سترګو
دومره غبي، غبي خویونه وکړل
چې نور یې هېڅ په کیسه پوهه نه کړم
خو بس په تلو، تلو کې یې دا وویل:
"راکړې ګل دې بېرته واخله
زه د هجران په سفر ځم مړاوی به شینه"

## د کانو ږلۍ

### عصمت الله ملنګ

توره شپه ده
تور ماښام دی
د اسمان پر حسن پروت ټکرې د ورېځو
سوې کړیکې دي د وریځو پر مخ پلنې
تور توپان مو ماتوي د ګلو څانګې
د کانو ږلۍ اوري
څنګه وکړم لویه خدایه
توره شپه ده، تروږمۍ ده، لاره ورکه
رانه ستوري او سپوږمۍ هم
دې تیارو په ولجه وړي
ډار په زړونو سیورې کړی
ګرانې ته مې خوا ته راشه
راته حسن دې سپوږمۍ کړه
د سترګو ستورې دې ډیوې کړه
چې ترڅو دا ورانې لارې
رڼا په شونډو ښکل کړې
چې زما شبکورو سترګو ته
رڼا کړې کړې لارې
چې جوړه شو سره دواړه
چې دا سترې سر مې کېږدم
ستا د سپین مړوند دپاسه
او د ژوند وروستي ګلان مې
پاڼې پاڼې توېې شي
ستا په غېږ کې.

***





# د وکیل عبدالجلیل ملنګ په ناڅاپي مرګ

### لایق زاده لایق

اخر یې دواړه سترګې کړې پټې په سلګو کې
بلا یې ګور ته یووړل سوالونه په سلګو کې
که ډېرو د مرګي سره په جنګ عبدالجلیل
ملنګ عبدالجلیل
بې وخته لاړ فنا شو په یو درنګ عبدالجلیل
ملنګ عبدالجلیل

په خپله جدایي یې بلا زړونه خپه کړل
د ژوند د محفلونو رنګینونه یې پیکه کړل
امین د روایاتو نام و ننګ عبدالجلیل
ملنګ عبدالجلیل

پخپله سادګۍ کې د مینې سمندر و
په کور کلي کې څکه د هر چا معتبر و
د خیال د تاترې نه بلا دنګ عبدالجلیل
ملنګ عبدالجلیل

په ټوله پښتونخوا کې یو ستوری د سحر و
وختونه داسې وایي اباد پرې تول تنر و
خودداره بې پروا له هر قلنګ عبدالجلیل
ملنګ عبدالجلیل

که مړ دی خو مړ نه دی فکرونو کې ژوند دی
لایقه بختور دی چې زړونو کې ژوندی دی
یادېږي به د ستوري څنګ په څنګ عبدالجلیل
ملنګ عبدالجلیل



په ۱٦مه نېټه يې عملاً په کار پیل وکړ او سم دواره یې (۱۸۰) تنه برحال ښوونکي د مسلکي روزنې لپاره د تدريس لاندې راوستل، چې په راتلونکي کې به د ننګرهار پوهنتون د کانکور له لارې محصلين جذبوي، چې د سيمې د وګړيو د زده کړې په بډاينه کې مهم رول لري.

همدا ډول د اسداباد_جلال اباد په لويه لار د سپين جومات په سيمه کې د موټرو پول، چې (۲۷۰میټره) اوږدوالی او (۴نيم میټره) پلنوالی لري، د ۱۳۸٦ل کال د کب د مياشتې په لومړۍ نېټه يې د جوړولو کار پيل او د ۱۳۸۸ل کال د تلې په مياشت کې پای ته ورسېد.

د خاص کونړ پل، چې د کونړونو ولايت د جوړونې د ګروپ (PRT) له خوا يې مالي چارې پرمخ وړل کېدې، د (نوي صافي شرکت) په تخنيکي مرسته د (۲۰) مياشتو په موده کې جوړ او د ۱۳۸۸ل کال د تلې په مياشت کې د خلکو په وړاندې د تېرېدو او راتېرېدو لپاره د کونړونو ولايت د محترم والي سيد فضل الله واحدي له خوا د پټې په پرې کولو پرانېستل شو.

د خاص کونړ پل د (۸) اته نورو ورته پلونو له جملې څخه يو پل دی، چې د کونړ د سرشاره سيند په سينه يې د اسداباد او جلال آباد ترمنځ لويه لاره د کونړونو ولايت له خاص کونړ ولسوالۍ سره نښلولې ده.

همدارنګه د خاص کونړ سرحدي ولسوالي، چې د ډيورنډ له ليکې سره وصل پرته ده، نږدې له ۴۰ څخه تر ٦۰ زرو په تعداد پکې وګړي په داخل او خارج کې حساب شوي او ژوند کوي.

د خاص کونړ ولسوالي، چې (۴۴۳۰۳) څلور څلوېښت زره درې سوه درې جريبه ځمکه لري، چې (۱۲۰۰۰) دولس زره جريبه يې جبه زارې ځمکې، (۱۰۳۰۳) لس زره درې سوه درې جريبه سحرايي خاره ځمکه او (۲۲۰۰۰) دوه ويشت زره جريبه پکې زرعتي ځمکه ده، د نوي پل په جوړېدو سره ددې ولسوالۍ ډېرې ستونځې لکه ترانزيتي، صحي او ترانسپورتي او نور خنډونه آوار شول. همدا شان د پل د جوړېدو له لامله د ولسوالۍ ترقياتي کارونه لکه د کورونو، سړکونو او ښوونځيو د ودانيو جوړول ښه په درز کې روان دي.







د پل د جوړېدو پرڅنګ په لويه لاره پروت يو جومات، چې ۱۳۳۲ل کال کې د يو نيک بنده له خوا د سپين جومات په نامه نومول شوی او د بنسټ ډبره يې هم اېښودل شوې وه، په نوې او موډرن بڼه باندې د (NSCCS) يا نوي صافي ساختماني شرکت په مالي لګښت ورغول شو، چې نوموړی جومات هم د ۱۳۸۸ل کال د لړم په مياشت کې د خلکو په وړاندې د عبادت لپاره چمتو او د کونړ ولايت محترم والي الحاج سيد فضل الله واحدي له خوا پرانېستل شو، چې د ستوري مجلې اداره يې هم د جوړونکي لپاره د لوی خدایؑ له دربار څخه د بدلې غوښتونکې ده او همدا شان ورته د نورو خيريه کارونو هيله لري.





# د ستوري "ستوري"

## (احمد جان نشتر)

ليک: عزيز الله ماموند صادق زوی

خدای بخښلی ډاکټر کبير ستوري څوک نه پېژني؟ د هغه له نوم، شهرت، هلوځلو او مبارزې سره ټوله نړۍ اشنا وه او ده، هغه که اوس په موږ کې نشته، خو لا ژوندی دی، د هغه ستوري لا اوس هم ځلېږي.

خو نن چې زه کوم "ستوری" يادوم، هغه د ستوري "ستوری" و، هغه ستوری چې د "ستوري" د لارې ملګری و، ملي مبارز او په پښتو ژبه مېن فيلسوف، شاعر او اديب، ښه ليکوال، ډاکټر او حکيم و. زه خپل پلار (شېر زمان صادق) چې د هغه پخوانی دوست او نږدې ملګری و، له هغه سره بلد کړم.

هوکې! خدای بخښلی ډاکټر احمد جان (نشتر) يادوم، چا چې لکه (ستوري) د پښتو او پښتنو د حقونو د لاسته راوړلو لپاره تل هلې ځلې او مبارزه کړې وه او له دې امله له خپل کور کلي څخه په هجرت کولو مجبور شوی و.

"که څه هم د هغه د تلين نېټه تېره شوې ده، خو د ځينو نامساعدو حالاتو له لامله ما لکه د تېرو کلونو په شان د هغه تلين ونه نمانځل شو، خو د هغه ياد به د ستوري مجلې له لارې د (ستوري) او (نشتر) له مينه والو سره شريک کړم)

خدای بخښلی پخپله د هغه له خولې په ختـه پښتون، د لويې پښتونخوا د سوات د کبل په سيمه کې زېږېدلی و، ابتدايي زده کړه يې په خپل کلي کې ترلاسه کړې وه او منځنۍ زده کړې يې په سوات او د لوړو زده کړو لپاره پېښور ته تلی و.





دا چې خدای بخښلي د پښتنو د آزادۍ د تحريک لېوال و، پېښور ته له رسېدو سره سم د خان عبدالغفار خان په خدايي خدمتګار تحريک کې شامل شو او ددغه لارې ملګری شو.

د پښتنو د آزادۍ لپاره او د هغو په حقونو د تجاوز او انګرېزي استعمار پر خلاف يې عملي مبارزه پيل کړه. څه وخت وروسته، چې يې لوړې زده کړې د ترسره کېدا په حال وې، په هغه وخت کې د پښتنو د مشرانو او خدای خدمتګارو د نيولو او قيد و بند سلسله پيل شوه. نشتر صيب له دې امله د باجوړ سيمې ماموندو ته راغی، هلته يې په يو ښوونځي کې د ښوونکي په توګه کار پيل کړ او له همدې لارې يې خپلو هلو ځلو او کوښښونو ته ادامه ورکړه. خورا زيات پيروان يې پيدا کړل، دغه کوښښونه يې لا جاري ول، چې پيرنګيانو او د هغوی ګوډاګيانو د خدايي خدمتګارانو نيول نور هم تېز کړل او نږدې وه چې تر هغه يې لاسونه ورسېږي، خو کله چې (نشتر) د ځان او خپلو ملګرو لپاره خطر احساس کړ، نو دغه ځای يې پرېښود او سيده د (کابل) پر لور رهي شو او هجرت يې وکړ. کابل ته په راتلو سره د (نشتر) او د هغه د ملګرو تود هر کلی وشو او زيات ونازول شول.

چون نشتر صيب ډاکټر و حکيم، فلسفي شاعر، ليکوال او اديب و، نو په دې اساس ورته د راډيو افغانستان په ستوډيوګانو کې ځای ورکړل شو. يوه اردو خپرونه يې پيل کړه، چې ددغې خپرونې چلوونکی او مبصر و او له دې لارې يې خپلې هڅې روانې وساتلې. سربېره پر دې د پښتو اکاډمۍ غړی هم و.

په افغانستان کې د هغه وخت د تحولاتو او کورنۍ جګړې له لامله يو ځل بيا لرې پښتونخوا ته ستون شو، هلته د جندول په سيمه کې د ګمبير کلي له حاجي خان سره مېشت شو. ډېر په ادب مېن به يې خواله راتلل، ترڅو د هغه له علم او پوهې څخه برخمن شي، زه هم له دغې جملې څخه د هغه په شاګردانو کې يو وم.

ما له هغه سره له نږدې نه هر وخت کتل، د هغه عالمانه خبرې مې اورېدې، زياتې پوښتنې به مې ترې کولې، د هغه يو علمي قول د مثال په ډول ليکم، چې:





"نه په ډېر خوړ ژوند کې خوند وي او نه په ډېر تریخ کې، کله چې ژوند خوږ وي، کله تریخ وي، انسان ترې زیات خوند اخیستی شي."

زه چې د هغه خوا ته زیات تللم، د هغه ژوند مې له نږدې څخه لیده، هغه په خپل ژوند کې ډېره سادګي غوره کړې وه، د دنیا د اسانتیاوو او مال دولت سره یې هیڅ علاقه نه درلوده، ډېره مطالعه، کم خواړه او پیاده تلل د هغه له صفاتو څخه وو. یواځې او یواځې لیک لوست او نورو ته زده کول د هغه ژوند و، له دې امله یې واده هم نه و کړی.

د باجوړ د سیمې د یو بل خدایي خدمتګار او پښتنو د آزادۍ غوښتونکي د سوال قلعه ملک د زوی حاجي محمد اکبر خان لقبي بابا د پښتنو د آزادۍ دغه لوی مبارز په پښتو مېن عالم او فیلسوف د خدای بخښلي ډاکټر احمد جان (نشتر) د سینې د یوې ساري ناروغۍ له امله په باجوړ عامه روغتون کې بستر شو. د ناروغۍ د زیاتوالي له لامله د دیر ضلعې د تیمرګرې روغتون ته ولېږدول شو. هلته هم د ډاکټرانو له خوا د ښې درملنې لپاره پېښور ته واستول شو، خو په خواشینۍ سره وایم چې خدای بخښلي په نیمه لار کې له ژوند سره مقاومت بایلود او ساه یې ورکړه. انا لله و انا الیه راجعون.

دغه بدمرغه شپه د ۲۰۰۳م کال د ستمبر د میاشتې د اتلسمې شپې یوه بجه وه، چې په دغه شپه پښتو او پښتنو د خپل یو لوی مبارز، چې ۷۰ اویا کلن و، څخه لاس ووینځه او د یوې لوی خلا په راتلو سره یې زیان وموند. که په دې نړۍ کې (ستوري) او (نشتر) سره نه وي لیدلی، هلته سره یوځا شول.

د دواړو روح دې ښاد وي.

*اکبر سیال*

د ستر ګو سمندر کنه دې راتاؤ دے د دنیا نه
زموږ شونډې د تندې نه پرق اوچاودې جانانه

بس بس هسې نه صبر شي تمام د لبونو
بېلتونه ګوتې اوباسه زموږه د ګرېوانه

دا کاڼي کاڼي ستر ګې په جبین د ماه جبینو
زړګیه په ښانو کښې ژوند مه ګوره نادانه

د زړه د کلو باڼې مې رېبرې وارخطا دې
راتاؤ مې طوفانونه دي د ژوند د ګلستانه

هر کال د ګناهونو مغفرت په فطرانه شي
خه ساله دعا واخله د خپل کلي د ملا نه



## زېری

### د خاص کونړ په ولسوالۍ کې د ستوري عامه کتابتون

د کونړونو ولایت د خاص کونړ د ولسوالۍ د تنر په کلي کې د پښتو ژبې د ملي او نړیوالي شاعر، لیکوال او عالم ارواښاد ډاکټر کبیر ستوري په نوم "د ستوري عامه (ولسي کتابتون) پرانستل شو. په دغه کتابتون کې دا مهال د ۳۰۰۰ څخه زیات دیني، علمي، سیاسي، ادبي، اجتماعي، مسلکي او د زده کړې کتابونه د خاص کونړ د لوستونکي لپاره موجود دي.

د خاص کونړ لیکوالان، شاعران، ادیبان، پوهېدونکي (محصلان) او زده کوونکي کولای شي، چې د ستوري له عامه کتابتون څخه د خپلې پوهې د لوړوالي او تحقیق لپاره ګټه واخلي، هر هغه لوستونکی چې کتاب ته ضرورت لري، په وړیا توګه له دغه کتابتون څخه د موقت وخت لپاره د خپلې خوښې کتاب ترلاسه کولی شي او د اړتیا د پوره کولو وروسته یې باید بېرته د کتابتون مسؤل ته وسپاري. لوستونکي کولای شي چې په دې اړه د کتابتون او ستوري مجلې له مسؤل مدیر عرفان الله کوټوال سره اړیکه ټینګه کړي.

پته: د خاص کونړ ولسوالۍ، د تنر کلی، طلایي بانډه

د ټلیفون شمېره: 0772931466

## د ستوري استازي

| | |
|---|---|
| کابل | استاد عبدالظاهر شکیب |
| ننګرهار | شفیع الله تاند |
| کونړ | نعمت الله کریاب |
| اسمار | طارق سالارزی |
| لغمان | امین الدین |
| باجوړ | سید اغا میاخېل |
| پېښور | ذبیح شفق |
| جرمني | نسیم ستوری |

## پته:

د کونړ ولایت، د خاص کونړ ولسوالي، د تنر کلی (طلایي بانډه)، د ستوري د خپرونې اداره

کوټوال: 0772931465
حیات 0774322484
کوچوان 0772935377

***

ستوری مجله د هېچا د لیکنې ننګه نه کوي، هرلیکوال ته بویه، چې د خپلې لیکنې سپیناوی پخپله وکړي
ستوری مجله به هغه لیکنې نه خپروي، چې اسلام، هېواد او ملي یووالي ته په زیان تمامېږي

***


# ستوری Stori

## خپلواکه، ادبي او کولتوري خپرونه

*****

د امتیاز څښتن / زمه وار: د خاص کونړ ادبي او کولتوري ټولنه

مسئوول مدیر: عرفان الله کوټوال مرستیال: هدایت الله حیات

کتنپلاوی: بصیر بیدار ستوری، محمد داود صدیقي، عصمت الله ملنګ، فضل الهادي عاصم، میرسلام مجاور، کلرنګ کوچوان

سلاکاره ډله: څېړنیار وجیه الله شپون، څېړندوی عبدالقیوم زاهد مشوانی، شفیع الله تاند

همکار غړي: رحیم الله خان، داود شاه داود، صادق فقیر، رضوان الله شپون

د " ستوري " استازي:

کابل: عبدالظاهر شکیب ننګرهار: شفیع الله تاند

کونړ: نعمت الله کریاب اسمار: طارق سالارزی

لغمان: امین الدین باجوړ: سیداغا میاخیل پېښور: ذبیح شفق

جرمني : نسیم ستوری